ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

# د رحمت شاه سائل د افسانې فکري او فني جاج


- **Muhammad Sajid**[1]
- **Dr. Mazhar Ahmad** [2]
- **Waqar Mohammad**[3]



**Abstract**:

*Rahmat shah Sayil was born in 1950 in the fertile land of District Malakand Dargai Wartair. His father Amin Gul was a noble person of the area. He is a versatile poet, columnist and short story writer. Rahmat shah Sayil is a well-known poet of the modern era. There is no one who don't know Sayil. He peeps into the mind of Pashtuns. Everyone enjoys his songs and poems. Sayil is a branded name in the field of poetry. He has owned a name in the concern literary field. Lots of researchers have done their research on Sayil. Besides this he has owned a name in Pashto fiction as well. His stories have gotten a universal approach in the pathan society. In this very article we will make you aware about the versatile nature of Rahmat Shah sayil. His poetry, short stories and fiction will be critically examined.*


**Key words**: *Life of sayil, Literary services, Short story of Sail in the way of thoughts and Fun.*

په ننني جديد دور کښې رحمت شاه سائل هغه شاعر دے چې هغه د پښتو او پښتنو په نبض پوهه دے، د هغوي په غم و درد شريک دے، د پښتنو په مجموعي حالاتو خبر دے،ملّت پاله، قام پاله او وطن پاله ليکوال دے۔ رحمت شاه سائل چې د نړۍ په مخ خپله يوه ځانګړې پېژندګلو لري،هر پښتون ئې پېژني او هر چا د رحمت شاه سائل د نغمه ګرو او خوندورو سندرو او شعرونو نه تر ډېره حده خوند اخستې دے او لا اخلي هم۔

دا د پښتنو قامي مبارز چې د خپلې شعري استعداد په برکت ئې د پښتنو مقدّمه په شعوري ذهنونو کښې چېړلې ده، د دوي د پېدائش په حواله ګنې رائې موجودې دي چې په هغې کښې همېش خليل ليکي چې:

> "بناغلے رحمت شاه سائلؔ د ملاکنډ ايجنسۍ په ورتير نومې کلـــي
> کښې د امـــين ګل خـان کره په کال ۱۹۴۵ د جـولائۍ په لسمه ورځ پېدا
> شوے دے ۔ د ابتدائي تعليـم نه پس ئې خواري مزدوري شروع کړه"[1]

دغه رنګ صاحب شاه صابر د سائل د زېږون په حواله وائي چې:

---

[1] Lecturer in department of Pashto, University of Swat
[2] Assistant Professor, Department of Pashto, University of Malakand
[3] MPhil Research Scholar, Pukhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University.

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

"نوم رحمت شاه او تـــحلص ئې سائلؔ دے نوم او تخلص ئې دواړه د فکر و فن اوشخصـیت سره سمون نه خوري خو په نوم اېښودنې کښې د هغۀ د وس نه رسیدۀ او د تخلص خوښولو په وخت کښې د هغۀ د جدیدو فلسفو، ادب، سیاست او تاریخ نه خبر نۀ وۀ . بلکې یو عام ساده کلیوال او اولسي شاعر وۀ او چې کله ئې د چاربېتې، داستان او اولسي سندرو نه د فني غزل او نوي نظـم دنـیا ته پـښه اړوله نو بیادغه تخلص دومره هوا خوړلې وه چې د بل تخلص ګنجائش خو څۀ د هغۀ نوم رحمت شاه ئې هم د خلقو نه هېر کړے وۀ"[2]

د صاحب شاه صابر سره خو زۀ تر دې حده اتفاق کولې شم کوم څه چې هغوي د سائل د تخلّص په بابله وئیلې دي خو ولې په پېدائش چې ئې کوم معلومات راوړې دي نو هغه ټول غلط او نا سم دي. داسې حال د همېش خلیل د لیک هم دے . د دوي تر څنګ نورو لیکونکو هم د سائل په پېدائش خبره کړې ده خو څوک سم غرېدلې دي او څوک غلط، چې په هغې کښې د افغانستان سره تعلق لرونکې یاسمین وزیرۍ په خپله مقاله کښې لیکي چې:

"سائل د پښتونخوا (پېښور) د ملاکنډ ایجنسۍ د درګئ د سیمې د ورتېر په کلي کښې په کال۱۳۲۸ لمریز کال کښې دې تیرېدونکې نړۍ ته سترګې وغړولې"[3]

په لنډ ډول داسې وئیلې شو چې کۀ د رحمت شاه سائل د پېدائش تاریخ په لیکلې صورت کښې کۀ موجود دے نو هغۀ ئې د وقارمحمدوقار سره په یوه مرکه کښې داسې څرګند کړے دے په کوم چې د سائل په خپله هم اتفاق دے. سائل وئیلې وو چې "زمونږ کلي ورتیر دے او هم په دې کلي کښې مې خړپوسې کړې دي، لوبې مې کړې دي او چې کله ئې سکول ته کښېنولے یم نو چونکې په دغه وخت کښې نا خواندګي ډېره وه نــو د پېدائش هغه کره نېټه به نۀ لیـکل کېده او یوه اندازه به ئې ولګول چې دا فلانـے په دې فلاني سن کښې پېدا شوے دے نو چې زما ئې هم د دغې اندازې مطابق کومه نېټه لیکلې ده نو هغه ۱۹۵۰ ده. . . . .زمونږ په ګاونډ کښې یو ځوان وۀ ، زۀ او هغه بالکل د یوې ورځې همزولي یُو او په یوه ورځ پېدا شوي یُو اوس کۀ د هغۀ د زوکړې نېټه چا معلومه کړه نو دا به زما هم کره او صحیح نېټه وي[4].

خو ولې د دې خبرې نه هم داسې بربښي لکه چې د سائل زړۀ بیا هم په دغې نېټه اوبۀ نۀ څښي خو ولې زمونږ سره بله لار څکه نشته چې نۀ خو اوس د دوي هغه همزولے ملګرے ژوندے دے کوم ته چې دوي

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

اشاره وکړه خو کۀ ژوندے هم وے نو څنګ حال چې د سائل د نېټې دے داسې به د هغوي هم وۀ ولې چې دواړه د يوې ورځې همزولي وو۔

ښاغلي رحمت شاه سائل تر دې دمه ډېرې شعري مجموعې چاپ کړې دي، دغه رنګ په نثري مېدان کښې ئې "اخري سندره،د باچاخان د افکارو معنوي تصويرونه، د باچا خان په نوم خط، د تنقيد مشرق و مغرب او پښتو" او "پښتو ژبه،املا او د باره ګلي فېصلې" شاملې چاپ مجموعې دي۔

کۀ مونږ د پښتو ادب مېدان طرف ته نثر وکړو نو د منظوم ادب په بدل کښې منثور ادب ډېر لږ تخليق شوے دے او زياته پام لرنه ورته نۀ ده شوې۔خو په موجوده وخت کښې چې کومو ليکوالانو د جديد نثر اړخ ته کوم ګام اخستے دے نو هغه د ستائينې وړ دے او اوس مونږ دا وئيلې هم شو چې کۀ د نظمي ادب سره نثري ادب د معيار او مقدار په حواله د مقابلې جوګه دے۔

په نثري ادب کښې د نورو تخليقي او تحقيقي ليکنو سره سره د دوي يو اړخ د افسانې هم دے چې سائل وخت په وخت ډېرې خوندورې افسانې هم ليکلې دي خو څنګه چې دوي د شاعر په حېث ځومره پېژندګلوي لري نو دا زما يقين دے چې د نيمو نه کمو لوستونکو او اورېدونکو ته به دا معلومه وي چې ښاغلے يو ښۀ افسانه نګار هم دے۔

څۀ رنګ چې مونږ ته معلومه ده چې افسانه په خپلو فني لوازماتو کښې د قيصې هغه ټوټه ده چې د انساني ژوند د يو اړخ عکاسي کوي۔په کتاب "پښتو ادب پوهنه" کښې د افسانې په حواله ليک دي چې:

> "مختلفو اديبانو د افسانې مختلف تعريفونه کړي دي خو په لنډو ټکو کښې مونږ دا وئيلې شو چې افسانه يو داسې نثري داستان (قيصې) وي چې په يوه ناسته کښې ختميږي ۔ دا د قيصې يو مختصر او لنډ قسم دے چې په فن او تکنيک پوره وي او مقصد ئې اخلاقي او معاشرتي اصلاح کول وي"[5]

د افسانو په حواله د رحمت شاه سائل وړومبۍ مجموعه د "آخري سندره" په نوم په کال۱۹۹۸ء کښې چاپ شوې ده چې په هغې کښې ټولې اووۀ افسانې شاملې دي۔د دغې کتاب په حواله اسير منګل ليکي چې
:

> " د رحمت شاه سائل د افسانو مجموعه "آخري سندره" په۱۹۹۸ء کښې چاپ ده۔ په دې افسانوي مجموعه کښې هغوي د پښتني معاشرې يو انځور وړاندې کړے دے۔ د قوم پرستۍ حوالې سره چې کوم پېغام دوي په شاعرۍ کښې ورکړے دے هم هغه د دوي د

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

قیصو نه هم جوت دے ۔ د دوي دا هڅه د پښتو افسانوي ادب د پاره یو حوصله افزاء قدم دے ۔"[6]

کهٔ په وړومبي فرصت کښې مونږ د یو څیړنکار په حېث د سائل وړومبۍ افسانوي مجموعې "آخري سندره" ته ځیر شو نو څنګه چې راقم الحروف وړاندې ذکر وکړو چې په دې کښې اووهٔ افسانې شاملې دي چې په کښې "اخري سندره"، "دروازه"، "د وړومبي خـط اخرۍ خبره"، "کنډري " ، "اتیا زره کالداري"، "نوي کال او "د خوبونو جذیره" په عنوانونو افسانې لیکلے شوې دي ۔ ټولې افسانې د فکر په حواله د لوړ معیار افسانې دي ۔ سائل کوشش کړے دے چې هغه کرمې د خپلو افسانو موضوعات وګرځوي کوم چې ورته په سماج کښې بربنډلې او ځلېدلي دي او د کومو نه چې معاشره د جمود ښکاره ده ۔ په کومه معاشره کښې چې کله هنرمندان سپک شي د هغوي کار کسب او د روزۍ ګټلو هنر ته کوم چې زمونږ د ثقافت لویه سرمایه ده په غلط او سپک نظر وکتلے شي نو هلته ژوند کښې خوند ورک شي ولې چې چرته انسان وي هلته به تهذیب وي او هلته به د خوږو خوږو ورمه سره به خوږې خوږې نغمې هم وي خو چې کله دغه هنرمندان زمونږ نظر درانهٔ نهٔ لګي او د هغوي فن زمونږ په زړونو او ذهنونو راج شروع کړي وي نو دا مقام،د ژړا مقام دے لکه چې سائل په افسانوي مجموعه کښې د "آخري سندره" په افسانه کښې د یوې هنرمندې په خوله وائي چې:

"زهٔ څوک یم؟ تاسو سره خپله پېژندګلو څنګه اوکړم؟ خو دا باجه او زما سندره وائي چې زهٔ ډمه یم---- ډمه--- سندر بولې ډمه--- ګډېدونکې ډمه--- او ډمه نهٔ د چا خور کېدې شي او نهٔ د چا مور . . . د دنیا د قامونو د عروج او د زوال په تاریخ کښې او د ترقۍ او پستۍ په دې دور کښې پښتانه څوک دي؟ د انسانانو په حېثیت د حیواني ضرورتونو پوره کولو پسې ئې پېړۍ وخوړې او زمانې ئې تیرې کړې نهٔ ماړه شو، نهٔ پټ شو او نهٔ ئې د سر سپورے پېدا شو او نهٔ ئې حیواني جبلتونه قابو کړل"[7]

دا خبره لکه د سپین سبا روښانه او رڼه ده چې مونږ د نړۍ د نورو قامونو نه ډېر وروستو یُو او وروستو ځکه یُو چې مونږ اوس هم په یو هنرمند ،ګلوکار او ډم کښې فرق ونهٔ کړو ۔ وروستو ځکه یُو چې نوره نړۍ نور نور ایجادات کوي او مونږ لا اوس هم په دې کښې نښتي یُو چې د ګلوکار فن خو خوښوؤ خو ولې ګلوکار راته کافر ښکاري۔

د ښاغلي رحمت شاه سائلؔ افسانه "دروازه" هم یوه غوره فکري افسانه ده، په دې افسانه کښې ښاغلے د خپل قام په واکدارانو ،رهنماؤ او قائدینو باندې سخت تنقید او طنز کړے دے ۔ څوک

چې په اصل کښې د هېڅ قابل هم نۀ دي. کله هم چې په پښتنو کښې څوک د مشرۍ دپاره اودريدلي دے نو هغه مشر نۀ بلکې د خپلو مفادو د پوره کولو يوه ذريعه جوړه شوې ده. او هم دغه سبب دے چې په دې افسانې کښې چې چا هم د دروازې د پورې وتلو دپاره د خپلې پېشې په حواله ذمه واري اخستلې ده نو هغه ته د خپلو ناجائزه خدماتو جائزه په منظرِعام پېش شوې ده. د دغې دروازې مخې ته د پښتنو د وکالت دپاره يو استاد پاڅي او هغه د پښتنو د حق اواز پورته کړي او خپل خدمات داسې اوستائي:

> "زۀ!! يو استاد يم. د ژوند ډېره حصه مې په درس و تدريس کښې تېره کړه. د علم په رڼا مې په زرګونو خلق منور کړي دي او د نړئيزې ورورولۍ، د انساني پېژندګلوۍ دپاره مې د ذهنونو زمکې تيارې کړې دي. مونږ په يوويشتمه صدۍ کښې د اوسيدو خلق يو. مونږ حق لرو چې مونږ ته دغه دروازه پرانيزئ"[8]

لنډه دا چې په دې افسانه کښې کۀ هره مکالمه مخې ته راغلې ده او په دغه دروازه هرچا د پښتنو د اولس ذمه وارې د خپلې پوهې په رڼا کښې اخستې ده نو هغه په دلائلو سره د دغې دروازې نه په غائبانه اواز رد کړے شوے دے او خپل ځان ته ئې ملامته ښکاره کړے دے. مطلب دا چې زمونږ په معاشره او زمونږ په ادارو کښې د ريښتياؤ ډېر لوے بحران دے. دلته چې چا هم يوه مقدسه پېشه خپله کړې ده نو رويّه ئې ورسره مقدسه نۀ ده پاتې شوې بلکې د خپلې روزۍ ګټلو يوه ذريعه ئې جوړه کړې ده په څۀ سره چې هېڅ يو قام ترقي نۀ شي کولې.

داسې کۀ مونږ سوچ وکړو نو د سائل افسانې چې يو شمېر پکښې علامتي افسانې شاملې دي او په علامتونو کښې ئې ډېر خوندور پېغام مخې ته راوړے دے او ډېرې افسانې پکښې داسې موجودې دي چې د هغې د لوست نه پس لوستونکي ته دا ادراک وشي چې ګنې دا افسانې د سائل د خپلو سترګو ليدلې حال دے. د دې په ترڅ کښې زۀ د هغوي بله افسانه "نوے کال" د نمونې په ډول ذکر کولے شم.

په دې افسانه کښې ښاغلي ليکوال د خپلې غرقې مطالعې څرګندونه په ډېره ښکلې طريقه او ښکلي انداز کښې کړې ده او هم له دې نه لوستونکي ته دا اندازه هم کېدلې شي چې ښاغلي ليکوال په ژوند څومره مئين دے؟، ژوند ته څومره نزدې دے؟، ژوند ئې څومره د نيزدې نه ليدلې دے، د ژوند د معنې او فلسفې نه ترکومه حده خبر دے؟ او پرې څومره پوهه او علم لري؟. سائلؔ صيب نۀ يوائې په نوي کال کښې يو روماني داستان چېړلے دے بلکې ورسره ئې د هغه مينې، خوشحالۍ، هغه اميدونه او ارزوګانې هم نقش کړې دي چې په حبث د يو مخلص وګړي دغه تاثرات

حرف و سخن
HARF-O-SUKHAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

د هغهٔ د مخ نه هم د نوي کال په شپه څلیږي، خو ولې وخت او حالات دغه ټولې هیلې او ارمانونه د خاورو سره خاورې کړي. او بیا د نوي رڼا د سحر په ځاے یو تور سحر راشي.

داسې کهٔ مونږ د لیکوال هره افسانه وګورو نو هغه د فکر په لحاظ یوه شاهکاره افسانه ده. هغوي ژوند ته ډېر د نزدې نه کتلي او د ژوند حالات او واقعات ئې لیدلې دي. دغه احساس د هغوي په هره افسانه کښې جوت پروت دے. "بنده دروازه" د لیکوال داسې ریښتونې افسانه ده چې هغوي پکښې یو ځل بیا د هغهٔ بې وزله او بې وسه پښتنو تار تار تصویر راښکلے دے کوم پښتانهٔ چې د نائن الیون د اثراتو په جنګ کښې در په دیکې شوي او دل دوبل شوي وو. د فکر په لحاظ د سائل دا افسانه یو ډېر تاریخي حېثیت لري او کهٔ زهٔ دا ووایم چې ټول په ټوله تاریخ ئې پکښې خوندي کړے دے نو بې ځایه به نهٔ وي. ځکه چې کله هم په دنیا کښې طاقت ښکاره شوے دے نو د هغې د طبع ازمائۍ د پاره ئې د پښتنو خاوره او زمکه خوښه کړې ده او هغه جنګ ئې دلته راوړے دے.

د نائن الیون نه پس چې کله اسامه بنِ لادن په افغانستان کښې پناه واخسته نو امریکه د افغانستان سره جنګ ته تیاره شوه او دغه شان په دغه جنګ کښې بې شمېره مالي او جاني تاوان وشو. سائل د دغې منظر کشي څهٔ په ډېر ښکلي انداز کښې کوي چې د روس په جنګ کښې د کونډو شوؤ دوؤ ښځو (زرلښتې او ورېمې) بچي چې کله د تورخم په دروازه د مزدورۍ دپاره اوړي نو هم وهل خوري او چې کله په څلویښت روپۍ من اوسپنه اوچلوي او بیا چې دغه پېسې خپلو میاندو له کور ته راوړي او په تورخم راوړي نو هم وهل خوري او چې کله د تورخم دروازه بنده شي نو پته ولګي چې اوس به مونږ د میاندو سره لوږه تېروؤ ولې چې دروازه بنده شوه او بنده ځکه شوه چې په کابل جنګ دے او دغه جنګ د ۹/۱۱ جنګ دے کوم چې د پښتنو په سر جنګ دے خو د پښتنو جنګ نهٔ دے.

ثنګ چې وړاندې عرض و شو چې د سائل هره افسانه د فکر په لحاظ یا خو ریښتونے حقیقت لري او یا داسې واقعات لري چې هغه زمونږ د معاشرې سره عېن مشابهت خوري چې د افسانې په لوستو زمونږ په زړهٔ او دماغو کښې د خپل چاپېریال یو بدرنګه تصویر په ښکلي انداز او پېرایه کښې وړاندې شي.

د فن په لحاظ کهٔ مونږ د سائل افسانه وګورو نو راته به معلومه شي چې د افسانې د پاره چې کوم بنیادي لوازمات دي نو سائل پوره پوره کوشش کړے دے چې د هغې خیال په خپلو افسانو کښې وساتي. کهٔ د سائل په زیاترو افسانو مونږ نظر واچوؤ نو څرګنده به شي چې د هغې عنوان، اغاز، تجسس، نقطهٔ عروج، وحدتِ تاثر، کردارنګاري، منظرکشي او داسې د نورو توکو خیال ئې په ډېر ښکلي انداز کښې ساتلے

دے چې په بعضې بعضې افسانو کښې خو په خاصه توګه د تجسس دا حال دے چې لوستونکے باقاعده په ځاے ودروي او په سوچ کولو ئې مجبور کړي.

غرض دا چې په دغه وخت کښې د هغوي هره کلمه او هره جمله د يو خيال سره سره د لوستونکي ذهن ته د نورو خيالونو ورشيندلو په چرُت کښې وي او لوستونکے سوچ کوي چې د لږ ساعت د پاره کتاب بند کړم او د دوي د دې لفظونو او تجسس نه خوند واخلم او بيرته په هغې خيالي دنيا کښې قدم کېږدم. خو ولې د دې ترڅنګ ځينې افسانې داسې هم شته چې هغه د فن په حواله په اوړو کښې د مالګې برابر خامۍ لري. دغه افسانې (کومې چې فني کمزورۍ لري) مونږ په تنقيدي نظر وګورو نو دا خبره به راسره هر ادبي شخصيت او د بصيرت خاوند ومني چې د سائل بعضې افسانې واقعي چې د فني بحران سره مخ شوې دي.

د سائل په افسانو کښې څو افسانې داسې افسانې هم شته چې هغه ډېرې اوږدې دي. خصوصاً په کتاب "آخري سندره" کښې شاملې ټولې افسانې اوږدې دي خو څو پکښې داسې دي چې لوستونکے د طوالت سره سره د هغې نه خوند يو په دوه اخلي او څو داسې دي چې په هغې کښې قاري ته دا احساس وشي چې ګني دا د ليکوال خپل شعوري کوشش دے چې افسانه ترې د بې ځايه طوالت په سرحدونو ډنګېدلې ده او غېر ضروري مکالمې يا بحث ئې راوړے دے خو د ځينو افسانو د طوالت سره سره چې لوستونکے د هغې په لوستو نۀ مړېږي نو په شا ئې د تجسس لاس وي او د تجسس په پېدا کولو کښې سائل په خپل هنر ښۀ پوهېږي چې څنګه وکولې شي چې قاري له د کتاب په مخ منډې ورکړي.

د رحمت شاه سائل د ځينو افسانو اغاز د مکالمې نه کېږي چې يو ډېر خوندور کېفيت پېدا کوي چې مونږ ئې د ښو افسانو په خوبو کښې شمېرلے شو او چې بيا کله د دغه مکالماتي اغاز سره سره مونږ د افسانې په اختتام نظر اچوؤ نو راته پته ولګي چې افسانه ختمه شوه ولې چې د هغې عنوان داسې وي چې لوستونکے ځان ته راکاږي او چې يو ځلې ئې ځان ته راکاږي نو بيا دغه څه وشي څه چې ووئيل شول. داسې دوي په افسانو کښې د ښکلي پلاټ، واقعات، مرکزي خيال او انجام ډېر خيال ساتلے دے او هر توکے ئې په ډېر هنرمندۍ سره په ځاے راوړے دے.

د سائل بعضې افسانې د افسانې د چوکاټ پر ځاے رپورتاژ ته ډېرې نيزدې دي چې په لوستو ئې داسې اندازه اوشي چې ګنې دا واقعه ښاغلي په خپلو سترګو ليدلې او کتلې ده او دغې ليدلو واقعاتو ته ئې د رپورتاژ جامه وراغوستلې ده. باقي ټولې افسانې ئې په معيار او مقدار په حواله برابرې او پوره افسانې دي.

په دې مقاله کښې مونږ کوشش او هڅه کړې ده چې د سائل د افسانې فکري او فني جاج ستاسو تر مخې کړو او دغه خبره د ادب په مېدان کښې ښکاره کړو چې سائل يو افسانه نګار هم دے او د دې سره

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

ترخنګ ئې د افسانو کتاب هم د "اخري سندره" په نوم چاپ کړے دے - کوشش مو کړے دے چې د هغوي د افسانې په فکر او فن مجموعي تاثر ستاسو تر وړاندې کړو او د هغه ادبي حقيقت ادبي مېدان ته پيرزو کړو -

حواله جات

[1] همېش خليل، پښتانهٔ ليکوال (دريم ټوک) ،عامر پرنټنګ اينډ پبلشر پېښور، دسمبر ۲۰۱۴ء ، مخ ۵۸

[2] صابر، صاحب شاه ، مياشتنۍ مجله "ناموس" ، ۱۹۹۳ ء،مخ ۴۱

[3] وزيرى، ياسمين، "د رحمت شاه سائل د شعري مختوياتو شننه"،پښتو نړيواله مرکه لومړې چاپ۲۰۱۶ء، مخ ۲۰

[4] مرکه،رحمت شاه سائل،سره د هغوي په ډېره ورتېر درګۍ کښې، نېټه ۲۰۲۱/۵/۵ ،وخت ماسخوتن ۹ بجې

[5] کتوزے ،سحر، سحر ګل، "پښتو ادب پوهنه"، پبلشرز: شمشاد ګل او محمد صهيب ګل، دويم اشاعت: جنوري ۲۰۱۶ء، مخ ۲۴۹

[6] منگل،اسیر،پروفیسر،"پشتو افسانے کے سو سال، منگل کتاب کور، محلہ جنگی،پشاور، باردوم ۲۰۱۷ء، ص ۱۶۵

[7] سائل،رحمت شاه، "اخري سندره"، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ،دانش کتاب خانه پشاور، چاپ۱۹۹۸ء، مخ ۱۷

[8] هم دغه ، مخ ۳۳